تایپ کامپیوتری از ع . ق . فضلی

**ببرک کارمـل:**

# خلک څوک او د خلکو دښمنان څوک دی!

## په هیواد کی د تضادونو د سم حل او زمونژ تر منځ د یووالی د تأمین لاره



د پا

دمارشال ایوب خان، د استبدادی رژیم پرضد، دپښتونستان‌اوپاکستان دخلکو دمظاهرو اواعتصابونو توفانی څپی، ورځ تر ورځی پیاوړی کیږی. دخلکو د اعتراضونو او مبارزو، ځلمی موج په هغه هیواد کی‌دایوبخان داستبداد زړه‌ته دخلکو د غوښتنو د عظمت زلزله ننه ایستی ده. تراوسه پوری په لس هاوو آزادی غوښتونکی قربان شوی اوټپیان‌شوی اوسلګونه زلمیان اوسیاسیون بندیان شویدی.

دپاکستان‌پولیس دوروستی وسلی

پرچم

ناشراندیشه های دموکراتیک خلق افغانستان

شماره (چهل و هفتم) دوشنبه ۲۱ دلو ۱۳۴۷ — ۱۰ فبرو د ی ۱۹۶۹

ببرک کارمل

خلك څوك او دخلكو دښمنان

څوك دی !

په‌هیوادکی دتضادونو د سم‌حل اوزمونږ ترمنځ دیو والی دتأمین لاره

باید په افسوس وویل شی چه‌زمونږ هیواد، د فیوډالی اوما قبل‌فیوډالی مناسباتو د موجودیت او داستعماری نفوذ له کبله، تراوسه‌پوری متحد اویو موټی ندی. زمونږپه وطن افغانستان‌کی، دخلکو دکړکی وړ، راز، راز تضادونه په قوت‌موجوددی، چه‌که پخپل‌وخت اومنطقی توګه‌حل نشی ، زمونږ هیواد همیشه دتجزیی- تفرقی او ګډوډی خطر تهدید وی. په هیوادکی دتضادونودحل یوازینی‌سمه‌اوچټکه‌لار عبارت‌ده دملی دموکراتیك نهضت کامیابی -دستراتیژیك هدف دحداقل په حیث‌او د سوسیا لستی نهضت کامیابی دستراتیژیك هدف دحد اکثر(غایی‌هدف) په حیث .

دنهضت ددی دوو مرحلو موفقانه‌سرته رسول، دهیواد دوحدت‌دحتمی کامیابی اودیوه، نوی، مترقی، واحد آزاد اومتحد افغانستان په وجودکی،زمونږ دخلکو دپرګنو او ټولو اقوامودااتحاد ضامن بلل کیږی .

نن زمونږ ټولنه دعمده او فرعی،پخلا کیدونکو او نه پخلا کیدونکوتضادونو له وجود نه ډکه ده. مګر ځنی‌کسان دناپوهی اودټولنی دعلمی‌درك نه لرلو له کبله اویا دعمداوقصدپه وجه، په هیوادکی د تضادونو له وجودنه انکارکوی اوځنی‌نورکسان‌دټولنی دعلمی تحلیل نه پرته، پـه‌ناشیانه توګه، په هیوادکی دراز،راز تضادونو مسائل ساده کوی اوپه‌یوه‌واحده نسخه کـی‌یی په مجرد ډول‌په «پورته طبقه او ښکته طبقه» تصنیفوی، اودا راز،راز اجتماعی اوملی تضادونه دمبارزی په لړ کښی له نظره غورځوی . یوه‌بله‌ډله دهیواد دقبائلو اواقوامو ترمینځ تضادونه ،چه پخلا کیدونکی اوفرعی دی،دخلکواودهغوی ددښمنانوداساسی تضادونو پرځای ګینوی. دا راز تصنیفو نـه‌له یوی‌خوا، مترقی او پرمختلونکی‌قوتونه ټوټی ټوټی کوی اوله نهضت نه یی رابیلوی او له بلی خوانهضت‌له ناکامی سره مخامخ کوی .

اجتماعی تضادونه :

به سلسله اعترافات صدر اعظم‌ووزرای افغانستان :

باید په افسوس وویل شی چه زموږ هیواد، د فیوډالی او ماقبل فیوډالی مناسباتو د موجودیت او د استعماری نفوذ له کبله، تر اوسه پوری متحد او یو موټی ندی. زموږ په وطن افغانستان کی، د خلکو د کرکي وړ راز، راز تضادونه په قوت موجود دی، چه که پخپل وخت او منطقی توګه حل نشی، زموږ هیواد همیشه د تجزیی- تفرقی او ګډوډی خطر تهدیدوی. په هیواد کی د تضادونو د حل یوازینی سمه او چټکه لار عبارت ده. د ملی دموکراتیک نهضت کامیابی – د ستراتیژیک هدف د حداقل په حیث او د سوسیالیستی نهضت کامیابی د ستراتیژیک هدف د حد اکثر (غایی هدف) په حیث.

د نهضت ددی دوو مرحلو موفقانه سر ته رسول، د هیواد د وحدت د حتمی کامیابی او د یوه نوی، مترقی، واحد، آزاد، او متحد افغانستان په وجود کی، زموږ د خلکو د پرګنو او ټولو اقوامو د اتحاد ضامن بلل کیږی.

نن زموږ ټولنه د عمده او فرعی، پخلا کیدونکو او نه پخلا کیدونکو تضادونو له وجودنه ډکه ده. مګر ځینی کسان د ناپوهی او د ټولنی د علمی درک نه لرلو له کبله او یا د عمد او قصد په وجه، په هیواد کی د تضادونو له وجود نه انکار کوی او ځنی نور کسان د ټلنی د علمی تحلیل نه پرته، په ناشیانه ټوګه، په هیواد کی د راز راز تضادونو مسائل ساده کوی او په یوه واحده نسخه کی ئی په مجرد ډول په «پورته طبقه او ښکته طبقه» تصنیقوی، او دا راز راز اجتماعی او ملی تضادونه د مبارزی په لړ کښی له نظره غورځوی. یوه ډله د هیواد د قبایلو او اقوامو تر مینځ تضادونه، چه پخلا کیدونکی او فرعی دی، د خلکو او د هغوی د دښمنانو د اساسی تضادونو پر ځای کینوی، دا راز تصنیفونه له یو خوا، مترقی او پرمختلونکی قوتونه ټوټی ټوټی کوی او له نهضت نه یی رابیلوی او له بلی خوا نهضت له ناکامی سره مخامخ کوی.

**اجتماعی تضادونه:**

د افغانستان او سنیو اجتماعی شرائطو سره سم، زموږ مخی ته دوه رازه اجتماعی تضادونه چه د خپل ماهیت له لحاظ بالکل یو له بل سره متباین دی، قرار لری. یو د خلکو او د خلکو د ښمنانو تر مینځ تضادونه؛ او بل د خلکو تر مینځ راز، راز تضادونه. باید په نظر کی ونیسو چه د «خلک» مفهوم، په هر هیواد کی د مختلفو تاریخی مراحلو په لحاظ مختلف معانی لری. مثلاً زموږ په هیواد کی د انګلیس پر ضد د عادلانه جګړی په موده کی، «خلک» عبارت و له ټولو هغو اجتماعی طبقو، قشرونو او ډلو اعم د کلیو او ښارونو له زیارایستونکو او غیر زیارایستونکو – تاجرانو، یو شمیر خوانینو، روحانیونو او نورو – څخه چه د وطن د استقلال په خاطر د انګلیس د استعمار پر ضد را پاڅیدلی وو، پداسی حال کی چه انګلیسی امپریالیستان، د اخلی خائنان او د انګلستان طرفدار عناصر د خلکو دښمنان وو. زموږ د هیواد د اوسنیو

شرائطو سره سم چه د ملی دیموکراتیک نهضت په مرحله کی واقع دی،«خلک» د هغو ټولو طبقاتو او قشرونو – کارګرانو، بزګرانو، پیشه ورانو، منورینو، کوچنۍ او متوسطی بورژوازی «ملی بورژوازی» او هغو سیاسی ارګانونو او سازمانونو (حزبونو) او اجتماعی ډلو شامل دی چه د افغانستان د خلکو د دښمنانو پر ضد مبارزه کوی. پداسی حال کی چه فیوډال ملاکین، ستر دلال سوداګران (کمپرادور بورژوازی) بورژوا بوروکرات ملاکین او امپریالیزم او هغه اورګانونه «احزاب» عناصر او مرتجع حاکمه محافل چه ددی طبقاتو او قوتونو نمایندګی کوی، د خلک دښمنان دی.

د «خلک» او د خلک د ښمنانو تر مینځ تضادونه، نه پخلا کیدونکی (انتاګونیستی) تضادونه دی. مګر د «خلک» تر مینځ تضادونه یعنی د زیار ایستونکو ترمینځ تضادونه، پخلا کیدونکی تضادونه دی. د افغانستان په اوسنیو شرایطو کی د خلک تر مینځ تضادونه دادی: د کارګرانو او بزګرانو د مختلفو قشرونو تر مینځ تضادونه، د منورینو تر مینځ تضادونه چه له مختلفو طبقو څخه راوزی، له یوی خوا د کارګر او بزګر او له بلی خوا د منورینو تر مینځ تضادونه، د کارګرو او نورو زیار ایستونکو او کوچنی او متوسطی بورژوازی تر مینځ تضادونه او قومونو او قبائیلو تر مینځ تضادونه او نور، ګرد سره پخلا کیدونکی (غیر انتا ګونیستی) تضادونه دی. زموږ د هیواد په اوسنیو شرایطو کی، عمده تضاد د بزرګرانو او فیوډالو ملاکینو تر مینځ او د «خلک» او اوتوکراسی (مطلقه حکومت) او امپریالیزم تر مینځ موجود دی. په اوسنۍ وضعه کی، په کلی توګه طبقاتی مبارزه، د کارګر د طبقی او «ملی بورژوازی» تر مینځ، د خلکو تر مینځ مبارزی یوه برخه ده؛ دا ځکه چی «ملی بورژوازی» زموږ په هیواد کی چه لا تر اوسه د رشد په ابتدائی مرحله او په متوسطه طبقه کی داخله ده، غبرګلونی (دوګانه) خصلت لری. په اوسنو شرایطو کی د «ملی بورژوازی» هغه برخه چه له امپریالیستی محافلو سره ارتباط نلری، د ضد امپریالیستی او ضد فئیودالی انقلاب د وظائفو په سر ته رسولو کی په عینی توګه ذینفع ده. بنا پردی دهغی د نسبی مترقی برخی اخیستلو امکان موجود دی. مګر باید په کلکه په نظر کی ونیول شی چه که د دولتی اقتصاد سکتور (برخه) پیاوړی نشی او د غیر سرمایه داری تکامل لاره ونه نیول شی، او د خصوصی تشبثاتو وده تر ملی نظارت لاندی رانشی، د زیار ایستونکو او بډایو طبقاتو د تضادونو د رشد او په هیواد کی د ننه د طبقاتی مبارزی د تشدید په موازاتو، «ملی بورژوازی» تر پخوا لا زیاته له امپریالیزم او داخلی ارتجاع سره، د سازش کاری خواته درومی او د کارګر د طبقی او د ملی بورژوازی تر مینځ نه پخلا کیدونکی تضاد، د ملی دموکراتیک نهضت او سوسیالیستی نهضت په مرحله کی تشدید وی. په دی ترتیب د کارګر د طبقی او ملی بورژوازی تر مینځ تضاد ماهیتاً نه پخلا کیدونکی تضاد دی. خو سره نه دی، د تاریخ په اوسنۍ مرحله کی په اصلاح

«ملی بورژوازی» له فئوډال ملاکینو او ستری تجاری دلال (کمپرادور) بورژوازی او بروکرات بورژوازی سره توپیر لری. او د ملی بورژوازی منځنی طبقه کولای شی، د ملی دموکراتیک نهضت په مرحله کی د «خلک» په جبهه کی و دریږی. همدا راز نور تضادونه زموږ په هیواد کی شته دی چه له بده مرغه د ځینو مترقی عناصرو له خوا له هغوی سره غلط برخورد کیږی. هغوی غواړی په میکانیکی او مصنوعی ډوګه دغه تضادونه، د اساسی او نه پخلا کیدونکو تضادونو پر ځای ودروی؛ مثلا د مختلفو ملیتونو او قومونو ترمینځ تضاد (چه په شئوونیستی او محلی پرستی شکل انعکاس کوی او حتی دا مسآله، د هژمونی (سر کردګی) په لحاظ، د کارګر د طبقی د سیاسی سازمان او د ملی دموکراتیکی جبهی دننه تر بحث لاندی نیسی) د ښاریانو او کلیوالو ترمینځ تضاد، د مرکز (کابل) او ولایاتو او اطرافو تر مینځ تضاد چه د پورتنی تضاد په ډوګه انعکاس کوی. البته زموږ په هیواد کی د پورتنیو تضادونو وجود یو واقعیت دی، مګر دا تضادونو، نه پخلا کیدونکی ندی او د ملی دموکراتیک او سوسیالیستی نهضت په اوږده جریان کی، په مسالمت آمیزه ډوګه حل کیدای شی. نو له دی تضادونو سره میکانیکی او مصنوعی برخورد او هغوی عمده او نه پخلا کیدونکی بلل، او د هغه پر اساس د دموکراتیکو او مترقی سازمانونو تشکیلول، داسی جبران نا پذیره اشتباه ده چه نهضت له ماتی سره مخامخ کوی. په طبقاتی مبارزه کی، د خلکو او د هغوی د دښمنانو تر مینځ د تضادونو پیژندل اوله هغوی نه د خلکو د اندرونی تضادونو تفکیک او په تاریخی مرحله کی د هغوی د حل د طریقو تشخیص، د ملی اجتماعی آزادی بخشونکی نهضت د سرته رسیدلو په لاره کی یوه حیاتی مسآله ده.

**د تضادونو د حل لاری:**

ددی لپاره چه زموږ د ټولنی د تاریخ په اوسنی مرحله کی، د «خلک» او د خلکو د دښمنانو تر مینځ تضادونه او د خلکو اندرونی تضادونه، د خپل ماهیت په لحاظ توپیر سره لری، نو د هغوی د حل لاری هم باید تپیر سره ولری. د یو شمیر «چپو» عناصرو او محافلو اشتباه هم په همدی کی ده چه حتی د خلکو اندرونی تضادونه (پخلاکیدونکی تضادونه) د هغو (نه پخلا کیدونکو تضادونو) پر ځای دروی چه د خلکو او د هغوی د دښمنانو تر مینځ موجود دی – او په نتیجه کی، په ملی او جهانی سویه، د خلکو د دښمنانو د پیاوړی کیدو باعث ګرزی. د هغو چپروو عناصرو شیوه لازیاته د تآسف وړ ده چه د خپلی «اختصاصی» مربوطی مسآلی اقل حد هم مطالعه کوی او «د خلکو د اندرونی تضادونو سم حل» په زمینه کی، له خپلو کتابی زده کړو او لارښونو څخه د تطبیق په ډګر کښی تر پښو لاندی کوی. پر مختګ کونکی ترقیخواه قوتونه تر ټولو نورو قوتونو زیات، څه د ملی دموکراتیک انقلابی نهضت په جریان کی او څه د سوسیالیستی

انقلابی نهضت په بهیر کی او څه د قدرت د اخیستلو په وخت کی – چه باید د کارگر د طبقی له خوایی لاربښوونه وشی او کیږی هم او باید د کارگرانو او بزگرانو د اتحاد پر بست مبتنی وی او مبتنی هم ده—— وظیفه لری چه: **اول** «عمده هدف» او د مبارزی تیره څنډه او «عمده ضربه» د مبارزی په هره مرحله کی، د خلکو د عمده دښمنانو پر ضد چه د نهضت په مقابل کی تینگار کوی، د نظر او عمل مورد وگرزوی.

**دوهم:** ضرورت حکم کوی چه پدی مرحله کی د نفوسو د تر ټولو پراخی منځنی برخی په مقابل کی چه د خلکو له عمده دښمنانو سره مخالفه ده (د هغوی د نااستوار او غبرگلونی خصلت له څارنی سره) سم او وښیار برخورد وشی.

**لنډه دا چه:** د خلکو ترمینځ د ایدیالوژیکو مسآلو او د اصولیت او غیر اصولیت «د حق او باطل د تشخیص» د مربوطو مسائلو د حل لپاره نه ښایی نه پخلا کیدونکی مبارزی، زور او فشار ته لاس واچول شی، ددی خبری معنی داده چه د خلکو اندرونی ایدیالوژیک او مورد اختلاف مسائل باید له دموکراتیکی لاری یعنی د آزاد بحث، انتقاد، منطقی اقناع، ورزده کولو او روزلو او زغم له لاری حل شی. نه د افتراء، تهمت، درواغو، جبر، او تشدد تهدید او ناروا تبلیغاتو له لاری او یا خلکو او د هغوی د دوستانو لپاره د غیر اصولی شرطونو د وړاندی کولو او یا د «بی رحمه مبارزی او بی امانه خپلو» د شعار ورکولو او یا د خلکو د پخلا کیدونکو تضادو د لمسولو له لاری، افسوس چه ددی مسالی طراح او او پیروانو، نور نو خپل سم تحلیل له نظره غور څولی دی!

په اوسنی مرحله کی د افغانستان دخلکو د وحدت په خاطر، د هیواد د ټولو قومونو د یووالی په خاطر، د افغانستان دخلک دموکراتیک سازمان د مجدد وحدت په منظور او د ملی دموکراتیک نهضت د ودی او تکامل په خاطر – دخلکو د اندرونی تضادونو او زمو. د (خلک) او د خلکو د دښمنانو تر مینځ د تضادونو تشخیص او همدا راز د خلکو د اندرونی تضادونو سم حل، یو فوق العاده مهم او حیاتی ضرورت دی. باید وویل شی که چیری شخصی خود خواهی او سازمانی بلند پروازی یوی خواته وغورځوو، هغه کسان چه له موږ سره شخړه کوی او اختلاف نظر لری په دوو ډلو ویشل کیژی: **لومړی** ښی لاس ته متمایله ډله چه د خلکو دښمنان خپل دوستان بولی. **دوهم:** «کیڼ» ته متمایله ډله او چیروان چه د خلکو اندرونی تضادونه، د خلکو او د هغوی د دښمنانو تر مینځ تضادونه بولی او خپل عمده گذار د خلک په دیموکراتیک قوت باندی حواله کوی. دا دواړه نظرونه نه یوازی سم ندی بلکه د افغانستان په شرایطو کی دعلمی جهانبینی د اصولو له لاربښوونی نه صریح انحراف دی.

**«وحدت- انتقاد- وحدت»:**

دا فورمول پدی معنی دی چه د وحدت د صادقانه آرزو له لرلوسره، د انتقاد او مبارزی نه لاری، د مترقی اخلاقو او علمی جهانبینی په چوکاټ کی او دهیواد په شرایطو کی دهغی د انطباق د مراعات سره سم باید د خپل خلک د دموکراتیک سازمانونو داخلی اختلاف حل کړو، څو وکولای شو پر لا مترقی اولاً اصولی پایو باندی، نوی خلاق او پیاوړی وحدت ته ورسیږو. تجربه ښی چه دا دموکراتیکه شیوه د خلک د دموکراتیک سازمانونو د تضادونو او اختلافونو د حل د پاره، سمه او ثمربخشونکی شیوه ده او خاصتاً کیدای شی دهغی په وسیله د ټول خلک د دموکراتیک قوت وحدت تأمین شی او په نتیجه کی اوسنی نهضت بریالیتوب ته رسول شی. د «وحدت انتقاد – وحدت» دا دموکراتیکه شیوه، پداسی حال کی کامیابه ده چه په صادقانه توگه، د وحدت آرزو دعلمی جهانبینی (نړی لید) د خلافو اصولو په چوکاټ کی تر مینځ وی. ځکه که د خلک د موکراتیک د وحدت لپاره ذهنی تمایل موجود نه وی او له اختلافاتو سرسم برخورد ونشی او یا لاقیدی او سهل انگاری وکړو او پریږدو چه زمان تیر شی او وخت بایلو، په هغه صورت کی به دوه ناوړه نتیجی مینځ ته راشی :

- د افغانستان د خلک دموکراتیک د سازمانی او تشکیلاتی قوت متلاشی کیدل.
- د خلکو د دښمنانو کامیابی.

د خلک د دموکراتیک قوت اساسی اصول حکم کوی چه باید د اقناع، تربیت، رفیقانه انتقاد، پر ځان انتقاد، پر اشتباه اعتراف او له تیرو اشتباهاتو نه د پند اخیستلو میتود، د افغانستان د خلک دموکراتیکو قوتونو د بیا یووالی د تأمین په خاطر، او آزادی او دموکراسی د خلکو لپاره او بی امانه او مصرانه مبارزه د داخلی مرتجعینو او بین المللی امپریالیزم پر ضد د خپل نظر او مشترک عمل مبنا وگرزوو او خپل عمده دښمن (فئیودالیزم اوتوکراسی) مقاومت د تاریخ پدی مرحله کی مات کړو او د بورژوازی بی ثباتی او نا استواری (بیا په تیره زموږ په هیواد کی چه بورژوازی به عمومی توگه اصلاً ضعیفه او کمزوری ده) شنډه کړو. هغه کسان چه دی روښانه علمی حقایقوته تن نه ږدی، د افغانستان په مقابل کی به ستر او دروند مسؤولیت په غاړه ولری.

www.esalat.org